مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

اکبر بری ۲۰۲۰/۱۱/۱۶

# کور ته راغلی جهاد

شیریندل مخامخ وني ته لاس ونیو وې ویل :
ـ هه قه (هغه) مخامخ سنځله وینی ؟
ګل علم اوه ـ اته ګامه وړاندي د بیالي پر غاړه ولاړي وني ته وکتل وې پوښتل:
کومه؟... هاغه چي یوه څانګه یې په بیاله کي چوکه ده ؟
شیریندل ورجوخته کړه :
ـ هه خیر ویسي (یوسي)...بیلکول (بالکل) همدقه (همدغه) ده.
او له لنډي ساه نیولو وروسته وړاندي پسي لاړ :
ـ بس د همدقي سنځلي بیخ ته مي په همدقه بیاله کي اودس تازه کاوه چي دا څوان راغی.
له دې سره یې څنګ ته ناست څوان ته اشاره وکړه، چي ویاړلي یې په سنتو کي
موسل او سر یې د تائید په علامه خوځاوه . ګل علم لا دغسي د څوان ژیر بخون مخ او
خړو وړو سترګو ته کتل ، چي شیریندل زیاته کړه :
ـ مامنور (محمد نور) له هغه لرې نه راږغ کړه :«شیریندله !...وه شیریندله ! ». چي ما
وویل «ها» ویل یې « زیری می درباندي ، مالیم مادومر(معلم محمد عمر) راغلی ! »
دمادومرپه اوریدو مي خدای شته زړه راته په درزاشو، بې اختیاره مي له خولي ووتل :
« څه وواییِ !...مالیم مادومر ؟» ، ده ویل :«هو » ماویل: «څه وخت ؟» ده ویل :
« همدا یو سات مخکي » .
ـ زما بیا هم زړه ته نه لویده ،ناباوره مي وویل «نه !...». ده ویل:« خدای که به دروغ
وایم ، ما په خپلو سترګو ولید،.د پاچامیرپه شودیاره کي...دخپلي ادي کاله ته رهي و ،
ما ته یې سلام لا راواچاوه.»
زما چي ورو ورو د مامنور خبر زړه ته لویده، د زړه درزاهم زور واخیست . په بیره
مي وپوښتل :«بل څوک ورسره و؟ » او چي ده وویل : « هیڅوک .مازي د جامو وړه
غوټه یې په لاس کي وه .» ماهم نورڅه و نه ویل ، ژر مي اودس تمام کړ، پاڅیدم .
مامنور چي زما بیړه ولیده حیران یې ویوښتل :« چیرته ځې ؟ » ماویل :« څنګه چیرته
ځم سړیه ؟ څه چي اول...»
خو مخکي له دې چي خپله خبر تمامه کړي ، محمد نورپکي ورولوید :
ـ ماسکه ویل چي همدسي مخامخ پې ورځي .
شیریندل سر وڅانده :
ـ نه بابا...په ما دې د کوم شوده ګومان کړی ، که څه بلا؟
او د غاړي له تازه کولو وروسته وړاندي پسي لاړ :
ـ نو هماغه و ګل الم خانه وروره چي دواړه سیخ جومات ته وخوځیدو. په لار کي مي
زړه له خوښیه راته باغ باغ کیده. خوشاله مي ځانته وویل: « د کوندي زویه، ما په
اسمانو کي غوښتي، خدای په مځکه په لاس راکړی...» او ګام مي لا پسي چابک کړ.
خوڅوګامه وړاندي خدازده ولي یودم داچورت راپیدا شوچي هسي نه چي ددې سرکوزي
خون را له غاړي شي . زه به جهاد پې کوم او دا د کاپړ(کافر) بچی به مي بتره شهید
کړی وي. هماغه و چي ځانته مي وویل :« نه سړیه ، خام ګام به نه اوچتوې ...اول
ملاصیب ته ورشه ، سمه دمه پیتوا(فتوا) ترې واخله، بیانوته یوه شه او کار دي...» او
همداسي مي هم وکړل. چي لمونځ خلاص شواوکلیوال یو یو خپلو کورونو ته په ستنیدو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

شول، له ملاصیب سره لږ ګوښه شوم ترې ومي پوښتل :« ملا صیب، نو تا ویل چې
د کمونیس (کمونیست) مرګ روا دی ؟» . ملاصیب وویل :« بیلقتن( بالقطعاً ) ،روا څه
چې جهاد پرې پرز(فرض) دی ». ما ویل:«یاني بیخي روا د ی؟» ده ویل :«هو کنه ،
ولې؟». ما ویل « هیڅ..مانا په دې کي هیڅ شک و شوبه (شبهه) نه شته ؟ ». ملا
صیب وویل: « نه کنه ...په دې کي نه شک ته ځای شته نه شبهې ته ، بلکي په دی کي
شک کول ګونا ده..پوئیږې ؟ ، داکمونیستان چي دي، دا ټول ملحدین دي، او ملحدین
ټول د کتاب په حکم واجب القتل دي، مانا باید ووژل شي، پوه شوې؟». د ملا صیب
خبري مي یقین لږ پوخ کړ، خوزړه مي بیا هم نه و په کراره، په زغرده مي وپوښتل:
« یاني که دچازړه له پخوا نه لا ورته ډک وي؟ ». ملا صیب وویل :«بالکل همداسي
ده». پرې ورزیاته یې کړه :« دې ملعونانو ته خو باید هم د هر مسلمان زړه ډک وي
کنه..ته ګوره، په دې ارازیلو (رذیلانو)باندې خو آن هغه ددوي لیلن(لینن) ابلیس لا د
کمونیست نوم ایښی،...«کم»- و-«نیست»!. پوئیږې چي کم - و- نیست څه مانا؟...مانا دا
چي دې خنازیرو،ناعوذبِاللهِ مِنها، د خدای د دین په کم اونیست کولوپسي راالخیستي ده،
توبه خدایه توبه...چي خبرداسي ده، نو مخکي له دې چي دوي د خدای دین کم او نیست
کړي د هر مسلمان دیني وزیپه (وظیفه) ده چي دا سرکوزي نیست او نابود کړي !...»
زیاتي نوماکي هم کوم شک نه وپاتې. خوشاله مي رسخت ترې واخیست، له مامنور
سره یوځای له جوماته ووتو. ځوکامه وړاندي مي بې اختیاره ځانته وویل :«شیرینډلیه
بچو، بخت دې بیداره دی...نور خلک دیخوا ایخوا منډې پسي وهي، تاته خپله کاله ته
جهاد راغی. »او ګام مي لا پسي چابک کړ. په لار کي مي مامنور ته هم د کار د تابیا
ضروري لارښووني وکړې. تیاره مابنام هریو پرخپله لاره لاړو.
شیرینډل دا وخت بیا محمد نور ته وروکتل، چي هماغسي ویاړلي موسکا پرشونډو
یې دده خبرو ته غوږ نیولی و؛ اوهرڅوشیبې پس یې سر د تائید په علامه ورته خوځولی
و. وروسته له هغه یې بیرته ګل علم ته مخ وروااړاوه، چي خدازده په کومو چورتونو کي
ډوب واژه خوله ورته ناست و، وې ویل :
- نو بس ګل الم خانه وروره خپله تیاري مي ونیوه. چي شپه ښه پخه شوه، ټول ضروري
شیان مي راسره راواخیستل له کاله ووتم. د کورمخي ته په همدقي برندې چي اوس موږ
او تاسي پې ناست یو، د مامنور راتلو ته کیناستم. شیبه پس مامنورهم راغی. ده خپل
کله شینکوپ«کلا شینکوف»هم ورسره راالخیستی و. چي راورسید ترې ومي پوښتل
« په لار کي خوچا ونه لیدې ؟» وې ویل«نه »، بیا مي وپوښته« په کاله کي هم څوک
در ونه پوهیدل ؟»، چي ده بیا هم راته«نه» کړه، ما هم وویل«نوځه چي ځو له خیره.»
بس هماغه و ګل الم خانه وروره چي دواړه وخوځیدو. دکلي له کورونو لږ ګوښي مو
د کروندو لار په مخ کي واچوله. پرکلي چوپتیا خوره وه. مازې د دغه یا هغه سپي دغپا
ږغ به کله ناکله پکي واوریدل شو. دخدای حکمت ته ګوره، دغه شپه سپوږمۍ هم نه وه
راختلې. هر شی په تیاره کي ډوب و. موږدواړوهم په ایتیات«احتیاط» لاروهله. په
لارکي مي مامنور ته وویل :« وارخطا خو به نه یې؟»وې ویل :« نه بابا...د کوم تیزن
خیال دې را باندې کړی که څه بلا؟...چورت هم نه کې وهم.» و مي ویل :« ډیر ښه...
اوس به ستازړه هم ،که خدای کول، پې سوړ شي.» ده مازې راته «هو» کړه څه یې
ونه ویل. زه هم دغسي غلی دکلي ځنګ ته په کروندوکي وړاندې ورسره لاړم. تراوسه
شوکور«شکر»هیچا نه ولیدلي. چي د مالیم مادومر د ادې کاله ته ورسیدو، خدای شته
یودم وارخطا غوندي شوم. خدازده ولې مي دا زوی مړي لینګي راته په ریږدیدو شول.
خو ژرمي ځان بیرته سره راټینګ کړ، مامنورته مي وویل:« څه دننه». مامنوردسرای
ورلږسره پوري واهه، وې ویل :«تمبه ده». ماشاوخواوکتل ومي ویل: «پروانه لري،
په دیواله وراوړو». اوهمداسي موهم وکړل. چي سرای ته وروااوښتو، دواړو تیمبوزک
وواهه؛ بیامامنوروپسنیده:«په کومه کوټه کي دی؟»، ماویل:«زه څه خبر یم، باید وې
لټوو...» . هماغه و چي دواړه دغسي په ایتیات او د ګوتو په سر د مخامخ کوټو خواته
ورغلو. په دالان کي د ښي لاس کوټي وره ته ودریدو . مامنور وچ حلق وپسنیده :«چې
ادې یې راویښه نه شي» .ماهم په پسنهاري ورغبرګه کړه:«هغه کنه ؟...ولاکه یې ددول
په ږغ راویښه کي، څه چي ځو دننه» او غلي کوټي ته ننوتو. د خدای کارونه ګوره،
بس په هغه اوله کوټه کي په مالیم مادومر ورپیښ شوو. ستوني ستغ د کوټي په ګوټ کي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

خرېده. وروړاندي شوم، غلی مي د چړې په څوکه چوکه که . دی څه وګونید سترګي يي رارنې کړې؛ او چي موږ يي وليدو ژبون وهلي يي وويل:«خ خ...څو...څوک يې؟ ».
ما ويل:« چپ د خنزيربچيه، چي اوس به دي سوری سوری کم » . ده لا لږ ځان سره وخوځاوه، خوچي مامنور کله شينکوپ ورته ماشه کړ، زياتي نوپه ده کي هم د څه کولو شيمه پاتي نه شوه. دغسي کرخت او ژبون وهلی پر خپل ځای پروت پاتي شو. ما د لاس په اشاره ترې وغوښتل چي پاځي .دی هم پاځيد. بس دی مخکي موږله شا دکوټې وره ته وخوځيدو . چي شيريندل وويل :
ـ هلته يي د وره په خوله کي...
محمد نوربيا په خبر کي ورولويد :
ـ ...خپله ګُرتی واغوسته، ان بوټونه يي لا په پښو کړل...لکه کوم واده ته چي يي بيايو.
شيريندل هم موسکي شونډي سر د تائيد په علامه وخوځاوه، پسي وې ويل :
ـ بس نو ګل الم خانه چي تاته دي وويل شي، د سړي لاسونه مو هماقلته«هماغلته» په کوټه کي له شا وروتړل، راسره رهي مو که«کړ». په ايتيات له کوره ووتو، د ازرت باز «حضرت باز »په کرونده کي موله کلي دوتولاړپه مخ کي واچوله. تراوسه هرڅه په خيرتېرشوي و.ځوګامه پس، لکه چي په ده کي هم ساه وچلېده؛ له ډاره يومخ پړکيدونکي يي وويل :
ـ چيرته مي بيايئ؟
خو موږ لا څه نه وه ويلي چي سړي تيندک وخوړ«درب!» په مځکه ولوېد. مامنور پې ور وغوريد:
ـ د ليلن «لينن» بچيه!...ړانده خو دي موږ بيسوادانوته ويل، اواوس ته خپله لاړ هم سمه نه ويني ؟...پاځه... پاځه، چي اوس به مي بتره جاغور همدلته دربانديِ تش کړی وي!
ماليم څه ونه ويل. په زحمت پاځيد، دغسي لاس تړلي چوپه خوله بيرته وخوځيد. ښائسته لار وړاندي لاړو. ما ويل چي سړی له کلي وباسو، بيا به يي چاره ورکوو؛ خو چي له کلي لرېبهرمي دنازک مير دوی دکاله په کنډوالوسترګي ولګېدې، خدای شته يودم مي پکر«فکر»بدل شو. بس، ماليم مي دکنډوالوپه خواورمات که. مامنورحيران وپوښتل:
ـ دلتهَ؟
ماويل:
ـ هو.
ده ويل:
ـ دلته خو کليوال د ډزوړغ اوري
ما ويل:
ـ نه. ډزوته حاجت نشته...دغسي يي چاره ورکوو.
دې خبرودماليم واني نوري هم وتښتولي، په زاريو جګيو سرشو، ژړغوني يي وويل:
ـ د خدای روی ته وګورئ...د رسول روی مي دروړی...ماولي وژنئ؟...څه ګونا مي کړې ؟...آخر لړخومي په داخپله ګونا پوی کړئ کنه...چاته مي څه ضررووررسولی چي وژنئ مي ؟...
خوموږزياتي ډيروخلوپلوته پرې نه ښود، په لغتولغتومو کنډوالي ته ورننويست. دکنډوالي په غولي کي مي اول دماليم جيبونه ولټول، هرڅه چي پکي وه ترې راوامي خيستل، بيا مي خپل پرې دده له لاسونو راخلاص کړ، دده په خپله ګُرتی مي يي لاسونه له شا ور وتړل، بيا مي د يوې وراني کوټې کنډوالي ته ورټېل واهه . غوښتل مي چي هلته يي په همدې راسره اخيستي پړې زيندی کړو، خو مامنور دسرای په منځ کي ځاه ته اشاره وکړه :«نه نه...دلته...دی ځاه ته به يي ورواچوو، څو يي خلک د مړي او ژوندي پته لګوي سړی به د وخته لا خوسا شوی وي.» . ښه پکر و. زما هم خوښ شو. چي موږ پرې وروړاندي شوو، سرکوزي خدازده ولي، يو دم په زوره چيغي سر کړې. خو موږ ډيرمجال ورنه کړ، پرې ورټوپ مو کړه، ټينګ مو له ستوني راونيو. بيا مودغسي له ستوني نيولی په دواړو د ځاه خولي ته ورکش کړ، لاندي مو وروغورځاوه. ماليم د يوې لندي چيغي په ويستلو«درب»ځاه ته ولوېد. په اول سرکي يي لالړزګيروی راخوت، خو چي موږ څو غټي سنګري ځاه ته پسي ورواچولي، زياتي نو دی هم چپ شو.
شيريندل دا وخت لنډه ساه ونيوه؛ بيا يي لږ چورتي غوندي پسي وويل :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

ـ په دا سبا يي مور ډېري جزې پزې وکړې...ډېر يي ديخواايخوا منډي ووهلې...خو بې پايدې«فايدې»...
محمدنور داوخت مضره موسکا پر شونډو، په ساختګي ګيله منه لهجه خبر ورپرې کړه:
ـ ...تا خو ښه ايسوز«افسوس» لا ورسره وکه...
شيريندل ترېو تندی وغُرېد :
ـ نو ستا زړه و چي رښتيا مي ورته ويلي وای ؟...
او ګل علم، چي داټوله موده دغسي منګ پرخپل ځای ناست و، حيران دواړو ته وکتل، بې اختياره يې له خولي ووتل :
ـ نو تاسي څه خبر وئ چي مالِم مادومر کمونيست دی؟.
دګل علم دې پوښتني شيريندل اومحمد نوردواړه لړپه قارغوندي کړل؛ لکه هيڅ چي يې له ده څخه دداسي خبري داورېدوتمه نه لرله. هک پک يې يوبل ته وکتل، په اعتراض يې وويل:
ـ څنګه څه خبر يو سړيه؟...دا ماليمان سرکوزي خو هرچاته مالوم دي کنه.چي ټول له يوه لبه کمونيسان دي...که نه دي؟...داټول پسات«فساد»خو اول له دوي راپيل شو کنه...
داټولي د«مورده باد او زينده باد» خبري چا دخلکوبچوته ورزده کړې، ها؟...
او چي دګل علم په سترګوکي يي بياهم دخپلوخبروپه وړاندي يوډول ناباوري ولیده، شيريندل هم خپل بړغ لاپسي اوچت کړ، هماغسي په اعتراض يې پرې ورزياته کړه:
ـ او د ماليم مادومر له جيبه خو همدا ما ايزبي«حزبي»کتابچه راووېسته.
دې خبري يي ګل علم ته هم ټکان ورکړ، په تعجب يې وويل:
ـ «حزبي؟!»کتابچه؟...د معلم مادومرله جيبه ؟...
شيريندل مغروره وموسل، ورغبرګه يې کړه :
ـ هو کنه... همدا اوس هم راسره ده.
له دې سره ګړندی پاڅېد؛ بې له څه ويلو چټک په کاله ننووت. له هغې خوا رښتيا هم له يوې وړې کتابچي سره راووت. ترېو تندی يې کتابچه ګل علم ته ونيوله وې ويل:
ـ دا... ته خو يي لوستی شې... چي زموږخبرنه مني، واخله خپله يې ولوله .
ګل علم غلي کتابچه کې ترې راواخيسته، زړه نا زړه يې سترګوته ونيوله، چي پرې ليکلي وو:

دافغانستان دموکراتيک جمهوريت
دښوونې او روزنې وزارت
د دولتي مامورينو او اجيرانو دخوراکي موادو کوپون


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ